ماشومانو مقدس کتاب
وړاندې کونکے



د عیسی مسیح د پاره د آزمینټ وخت

لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Byron Unger; Lazarus
Alastair Paterson

خوښونکے: M. Maillot; Sarah S.

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددګار: Bible for Children
www.M1914.org

©2023 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصۍ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.

کله چې عیسی
بپتسمه واخستله، نو
خدائ پاک ووئیل،
چې دا زما خوږ
زوئ دے، د چا نه
چې زهٔ خوشحاله یم،
د خدائ پاک روح
په عیسی مسیح
باندې لکه د کونترې
په شان نازل شو.

د دې نه پس، د خدائ
پاک روح عیسی مسیح
یو ځنګل ته بوتلو عیسی
مسیح هلته یوائې وو.

عیسی مسیح څلویښت ورځې روژه ونیوله. د دې مطلب دے چې هغۀ نۀ څۀ خوړلی او نۀ څۀ څښلی. هغۀ ډېر زیات اوږے شوے وو.



په کتاب مقدس کښې وئیلی شوی دی چې
هلته کښې څۀ ځنګلی ځناور هم وو.

شیطان د عیسی مسیح د آزمائیلو د
پاره راغے، ډیره موده مخکښې هغهٔ
آدم او بی بی حوا هم په باغ عدن کښې
د خدائ په نافرمانئ کښې آزمائیلی وو.
اوس به عیسی مسیح
آزمائیلے کیږی.

تر دې پورې چې شېطان
عیسی مسیح د خدائ پاک
زوئ هم په آزمېښت
کښې اچوی.


شیطان عیسی مسیح ته ووئیل، کۀ چرې تۀ د خدائ پاک زوئ یې نو تۀ دې کانو ته ووایه چې ډوډئ شی. هغۀ ته پته وه چې عیسی مسیح اوږے دے. او هغۀ ته دا هم پته وه چې د خدائ پاک زوئ عیسی مسیح دا کانی په ډوډئ باندې بدلولے شی. آیا
عیسی مسیح د
شیطان
خبره ومنله؟

نه! عیسی مسیح د شیطان خبره ونۀ منله. بلکې هغۀ د خدائ پاک د کلام نه هغۀ له جواب ورکړو، چې انسان صرف په ډوډئ باندې ژوندے نۀ پاتې کیږی. بلکې په هره هغه خبره چې د خدائ پاک د خولی نه راوځی.

بیا شیطان عیسی مسیح یروشلم کښې د خدائ پاک د کور
اوچتې مناړې ته وخېژولو، چرته چې به خلقو د خدائ پاک
عبادت کولو. اوس به شیطان مخکښې څۀ کوی؟



شیطان ووئیل، کۀ چرې تۀ په
ربښتیا د خدائ پاک زوئ یې، نو
تۀ خپل ځان د دې مُناړې د سر
نه بښکته وغوزوه. د خدائ پاک
په کلام کښې لیکلے شوی دی
چې د هغۀ فرښتې به ستا
حفاظت کوی.



عیسی مسیح جواب ورکړ، نه، په کلام کښې دا هم لیکلی
دی چې تاسو په خپل مالک خدائ باندې آزمیښت مۀ کوئ.



شیطان یو ځل بیا کوشش وکړو. او عیسی مسیح
یې د هغه ښار د ټولو اوچت غر ته وخپړولو.

شیطان هغۀ د زمکې هغه ټول بادشاهتونه او
شان او شوکت وښودلو او عیسی مسیح
ته یې ووئیل. کۀ چرې تۀ ما ته سجده
وکړې نو زۀ به دا هر څۀ تا له درکړم.

عیسی ووئیل، اے شیطانه لرې شه، ځکه چې لیکلے شوی دی تاسو صرف خپل مالک خدائ ته سجده کوئ او د هغۀ عبادت کوئ.

بیا شیطان د عیسی
مسیح خوانه لاړو.
او بیا ډېر ښکلے
کار وشو، خدائ
پاک خپل زوئ چا
چې د شیطان خبره
رد کړه، د هغهٔ د
خدمت د پاره
فرښتې راولیږلې.



د عیسی مسیح د پاره د آزمیښت وخت

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصۍ

شته دے

متی ٤ ، لوقا ٤

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ۔"
زبور 130:119

ختم شو

دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې. د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغۀ خپل یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولې خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کۀ تۀ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغۀ نه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوګنه کوی او تۀ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کۀ تۀ په دې ایمان لرې چې دا ربنتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زۀ ایمان لرم چې هم تۀ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تۀ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما ګناهونه وبخښه، چې زۀ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زۀ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۱۲:۳